مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رناگل اریوبزی
۲۰۲۳/۰۱/۲۶

# د طالبانو نظامي زور، عقلي او سياسي بې وسي

د طالبانوځني مخالفين هغه له سره شيطانان بولي اوپکي دافغانيت اوانسانيت نښي او نښاني نهويني. زه په دې ډله کې نه يم. طالبان بيا ځانونه داسمان فرښتي او دهرډول عيب او تيروتني نه پاک ګڼي. دطالبانو په فکرپه دې نړۍ کې دنورو مسلمانانو اسلام يو کچه اسلام دی او دلوی خدای د دې پراخي ځمکي په سر يوازې د دوي اسلام سوچه سوچه او ترټولو سوچه اسلام دی. که دا خلک غواړي چي په رښتيا سوچه مسلمانان اودجنت مستحق وارسان شی، نوبايد د تمد ن، دخپل سراو خپل نظرنه لاس په سراو دهيبت الله په لاررروان شي. په دې ټکي کې چې، طالبان ځان ويني او جهان نه ويني، د دوی لاره جدا زما جدا ده، فيصله ده پټه نه ده برملا ده.
زما په اند طالبان د نورو انسانانو په شان انسانان دي چي هم وجدان لري او هم نفس وشيطان لري، هم يې دوجدان په حکم ښه کارونه کړی دي او کوي يې اوهم يې دنفس او شيطان په غوښتنه غلطي چارې کړي دي او لا دوام ورکوي. په دې کې به خير وي چي ترخپله وسه د ښو اوبد ترمنځ توپيروکړو، ښې کړني يې وستايواو بدې يې دليکنواو که ضرور شي دلاريانونو او اعتصابونو له لارې ترهغو پورې وغندواو ورټو، ترڅوچي لاس ترې واخلي.
زما په فکر دطالبانو ښې کړني دادي:

۱ -داشغال اوداشغال ګرودلاس پوځو، غلواوداړه مارانو نه دافغانستان ازادول. ( که څه هم ځان وژونکي بريدونه او دسرک غاړې ماينونه مې د دوی دجهاد سمي لارې نه دي بللي او نه يې بولم. ) په افغانستان کې دامريکايي وسلو ازمويلو، په وادونواو دجنازو په مراسمو بې رحمه بمبارونو، شپنيو عملياتو، په بګرام، ګوانتانمواونورو امريکايي زندانونوکې دزندانيانو سره وحشيانه چلند ته دپای ټکی ايښودل، يوه لويه تاريخي لاسته راوړنه ده چي که دسم سياست له خوا تعقيب شوې وای اويا تعقيب شي نودافغان احسان منونکي ولس له خوا به يې زيات درناوی اواحترام په ځای شي.
۲-امريکايانونه غوښتل اويا بريلي نه شول چي په خپلو انديوالانويوواکمن مرکزي حکومت جوړکړي اوهغه څه چي دحکومت په نامه يې رامنځ ته کړل په حقيقت کې يوه بې کفايته فاسدالطوايفي وه چي مرکزيت يې نه درلود اوژوند يې زموز په هيواد کې دامريکا دنظامي ځواکونو په شته والي پورې تړلی و. که څه هم دفاسدالطوايفي د سياسي او اخلاقي کمزورتيا په پايله کې نظامي کمزورتيا د طالبانو له پاره واک ته درسيدولارډيره اسانه کړه، خوسره له دې هم دا افغا نستان ته دطالبانو يوتاريخي خدمت و چي په نظامي زوراوډسيپلين يې دفاسدالطوايفي ګيلم جم کړاود يوې تبا کونکي کورنی جګړې مخه يې ونيوله.
۳ -بل کوم غټ ګام چي طالبانو دملي يوالي اوملي ګټو په لور پورته کړی دی، هغه خپلومخالفانوته دعمومي عفوې اعلانول دي. موږ وليدل چي د ډاکټر نجيب حکومت د نسکوريدو نه وروسته جنګسالارانو په کابل او دهيواد په نورو ښارونو څه حالت راوست. دامو هم وليد ل چي په اصطلاح دبشري حقوقو ملا ترې امريکازموږ په هيواد باندي ديرغل په پيل کې دخپلو افغاني نوکرانو سره يوځای په ليلي دښته کې کوم بوږنوونکي ضد بشري جنايتونه ترسره کړل اوپه څه ډول يې تسليم شوي طلبان شهيدان کړل اونور يې په بګرام او ګونتنامو زندانونو کې سکنجه کول. د دي وحشتونو په خلاف طالبانو نه يوازې خپلو مخالفانو ته عمومي عفوه اعلان کړه، بلکې ترډيره يې عمل هم په وکړم. دا نه وايم چي دلته يا هلته به کومې سرغړونې نه وي شوي.خو هغه څه چي د طالبانو کورني او بهرني مخالفان يې په دې برخه کې خپروي، له سره له مبالغې ډک سياسي تبليغات په نظر راځي. دفساد اوغلامی وتلي سرګروپان حامد کرزی اوعبدالله عبدالله او دتير نظام ځني نور لوړ پوړي چارواکي روغ رمټ په کابل کې ژوند او بهر ته هم سفرونه کوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ

۴ -د طالبانو په هکله ویل کیدل چې فاسد نه دي او دا هلې ځلې هم کوي چې په لیکو کې پې فساد ریښې ونه غځوي، خوسره له دې هم دحکومت ترنیولو وروسته په دې یا هغه ویبساېټ کې په دوی هم دبډواخیستوتورلګول کیږي. په تیره بیا د کورنیو چارو په وزارت کې دپاسپورټ ریاست په هکله ویل کیږي چې هلته هر پاسپورټ په ډالرو پلورل کیږي.
۵ -دامیت په برخه کې یې تر اوسه دلویو جګړو مخه تر یوې اندازې پورې نیولې ده، خو ترورستي او ځان مرګي بریدونه لا دوام لري چې د قربانیانو شمیر یې تر دې د مه اوه سوو ته رسیږي. دجنایت په ضد هم دپاملرني وړهلې ځلې کوي او یوڅه لاسته راوړنې هم لري. په ټوله کې ویلی شو چې امنیت دتیر پر تله دطالبانو په واکمنۍ کې ډیر ښه او په دې برخه کې دخلکو ژوند یو څه ارام شوی دی. خو دطالبانو دالاسته راوړنې چې تر ډیره په نظامي زور بنا دي دهغوی د وروستیو کړنو تر سیورې لاندې راغلې دي، عقلي او سیاسي کمزورې یې خلک ناراضه کوي، له ولسه ځان تجریدوی او په خپله سرزورۍ خپله واکمني او په هیواد کې سوله او امنیت دګواښ سره مخامخ کوي. دا لاندې سیاسي اوعقلي کمزورتیاوې او تیروتنې دپام وړ دي:

۱ -سرپرست حکومت: د طالبانو حکومتي اداره تراوسه پورې موقتي اداره ده او هیڅوک په دې نه پوهیږي چې ولې اوترڅه وخت پورې به موقتي پاتې کیږي. دا چې شیخ هیبت الله په هرو څو میاشتو کې یوڅو لوړ پوړي چارواکي، بې له دې چې کوم مسلکي یا سیاسي لامل یې په ګوته شي، له خپلو دندو برطرفوي او په نورودندو یې ګماري، بله دپام وړګټه نه لري، اوله دې لارې یوازې په طالبانو باندې دخپل تسلط درجه نندارې ته وړاندې کوي.
۲ -بې قانونه دولت: په ټوله نړۍ کې یوازنۍ دولتي اداره ده چې بې قانونه حکومت چلوي اوحتا په خپلو سیاسي سترګو دقانون جوړولواونافذولو اړتیا هم نه ویني او کله کله یې له خولې راوزي چې شرعیت زموږ قانون دی اودا قانون له انساني تیروتنو پاک او مکمل خدایي قانون دی. کله چې شرعیت لرو، بیانودانسان په لاس جوړشوي قانون یا قوانینوته اړتیا نه وینو. حقیقت دادی چې هیڅ مؤمین دمبارکو ایاتونو اوحدیثونو په تقدس شک نه لري، خو په دې هم پوهیږي چې داسلام
پیغامبرحضرت محمد مصطفي ( ص ) درحلت سره سم دوحې او سنتو لړۍ هم پای ته ورسیده. له هغه وخته تر نن پورې څه ناڅه ۱۴ پیړۍ تیرې شوي دي چې په بهیر کې یې د بشردټولنیز ژوند په ټولو برخو( علم، تخنیک، تولید، ترانسپورټ، مخابرات، مالومات او نورو ) کې ډیربدلونونه رامنځ ته شوي دي چې نوې اقتصادي مؤسیسې اونوي حقوقي چلینجونه یې زیږولي دي. دبیلګې په توګه که په ټولنیز ژوند کې یوازې مخابراتي برخه په نظر کې ونیسو نو وینو چې په هغه پخوانیو وختومهم او داړتیا وړمالومات دکاروانونو اوځانګړو استازوپه واسطه وړل او راوړل کیدل، ورپسې دکوترواوآینوڅخه هم په دې برخه کې کار اخیستل شوی دی. د تیلیګراف، تلیفون، فکس اودانترنیټ بیلابیلو شبکو کشف، جوړول او کارول دکار دنوي ویش، تنظیم، علمي څیړنواود نوواقتصادي بنسټونو سره نه شلیدونکی پیوستون لري چې چلند یې په خپل وار حقوقي چوکاټ غواړي. دنوي تخنیک په هکله مالومات او دهغه د کارونې په پایله کې رامنځته شووحقوقي پوښتنوته ځواب په مقدسو نصوصوکې نه پیدا کیږي. خولوی پروردګار انسان ته عقل ورکړی دی او دعقل دودې اوځواکمن کولو له پاره یې په انسان دعلم زده کړه فرض کړې ده. دعلم زده کړه ځکه فرض ده چې په رڼا کې یې نه یوازې تخنیکي اوتکنالوژیکي انقلابونه ترسره کیږي بلکې د دې انقلابونو په پایله کې رامنځ ته شوو حقوقي چلینجونو ته هم ځوابون پیدا کولی شو یانې اړوند قوانین وضع کولی شواو دهیواد والو فردي اوټولنیز ژوند له زوراوتیري نه ساتلی شو. د بې قانونه حکومتولۍ نه دظلمت او دځنګل حکومتولي جوړیږي، هلته زور حکمران شي اوحق تر پښو لاندې کیږي، نارضایتي را پیدا کیږي او کله کله داسې لوی سیلاب ترې جوړیږي چې دا بې قانونه حکومتولي پکې ډوبیږي له منځه ځي اوړنګیږي.
۳ -کد ري سیاست: رسول ( ص ) په خپل وخت کې« زید » چې یو وخت غلام و، دقریشوپه لښکرکې دافسر په توګه وټاکه او دهغه زوی « اسامه » یې دهغه لښکر قومندان کړچې د پیغمبر ( ص ) لومړي یارحضرت ابوبکراو دوهم یار حضرت عمر په دې لښکرکې دساده سپاهیانودنده ترسره کوله. باید هیرنه شي چې نه « زید » او « اسامه » ته په خپلو مقامونو کې کوم غرورپیداشواونه د ابوبکراوعمر په اخلاص کې کوم قصور پیداشو. په اسلامي ټولنه کې هرچا د حضرت ابوبکراوحضرت عمرلوړشخصیتونه او ورسره سم دهغوی مقامونه پیژندل، خوپه حربي چارو کې « زید » اوزوی یې « اسامه » لوړ مهارتونه درلودل او داسلام پیغمبر( ص ) اهل کار ته دکا په سپارلوکې د بري رازونه لیدل او په دې لار لویولویو بریاوو ته هم ورسیدل. طالبان چې ځانونه تر ټولو ښه او سوچه مسلمانان بولي، په دې برخه کې هم درسول ( ص ) په لارنه ځي. دوی که څه هم دولتي بسټونه د تیر نظام د چارواکو په شان په پیسو نه پلوري، خوبې له دې چې مسلکي وړتیاته پام وکړي، په خپلو نږدې ملګرو او خپلوانو یې ویشي. لولم چې دځینو روغتونونواونورومسلکي مؤسیسو رئیسان یې هم ملایان مقررکړي دي. طالبي ملایانو خپل کسب - دجوماتونوامامت او په مدرسو کې استادي - چې ترټولو مقدس کسبونه یې بولې، پریښودل او د دنیاوي ګټو، دنورو ترځنګ د دوهم، دریم اوڅلورم واده دمادي امکاناتو دترلاسه کولو له پاره یې په دولتي چوکیو چې له سره یې مسلکي صلاحیت نه لري، منګولې ولګولې. ملا رئیس کیدلی شي خو ډاکټر کیدلی نه شي، په روغتیایي چارو یې سر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خلاصیدلی نه شي اوورسپارل شوی کار په بري سرته رسولی نه شي. طالبان په دې کړنو په ولس کې باور له له لاسه ورکوي، دخپل دولت کاري وړتیاته زیان رسوي، هغه په خپل لاس کمزوری کوي اوملایې ماتوي.

۴ -دافغاني میرمنو او په هیواد کې دپوهې په ضد جهاد: طالبان په اصغریا کوچني جهاد دومره مین او مشغول دي چې په اکبریا لوی جهاد یې عقیده له لاسه ورکړې ده اویا یې له سره ورته پام نه دی. اکبر جهاد دخپل نفس په ضد مبارزې ته وایي. یانې داچې مسلمان باید تر څه د مخه په خپل ځان کې خپلې ګناوې، تیروتنې اونیمګړتیاوې ولټوي، پیدا یې کړي او په اصلاح کولویې لاس پورې کړي او په راتلونکې ژوند کې یې دامکان تر برید پورې مخه ونیسي. اکبر جهاد خپل عمل دلارې مل ګڼي، هغه ته دانسان پام راګرځوي اودخپل عمل د پرله پسې اصلاح کولو غوښتنه کوي، نوځکه هم دانساني شخصیت د داخلاقي، علمي، مسلکي او دهغه دحقوقي شعور په سالمه وده کې بنسټیز رول لوبوي. داکبر جهاد په لار روان انسان دجهان ټولې ښیګڼې نه انحصاروي، ځان د ټولونیکیواو بل دټولو بدیو سرچینه نه ګڼي، ځان د بل انسان په شان دخدای مخلوق ګڼې او دانسانانو ترمنځ حقوقي برابري مني او له دې لارې په ټولنیز ژوند کې دتوپیر، تبعیض، لوړتیا غوښتنې اوجګړولاملون له منځه وړي، په سوله کې دوروری اوحقوقي برابری بنسټونه جوړوي. په دې توګه اکبر جهاد داصغرجهاد اړتیا هم له منځه وړي. خو طالبان یوازې اصغر جهاد مني او اکبر جهاد ته اړتیا نه لري، ځکه چې په ځان کې هیڅ ډول عیب یا ګنا، تیروتنه یا اشتبا نه ویني اودا ټول له ځانه غیر په نورجهان کې لټوي اوپه ضدیې خپل جهاد ته دوام ورکوي. لومړی به له ټولوافغانانو نه دځان په شان سوچه مسلمانان جوړوي، ورپسې به دا سوچه اسلام د نړۍ نورو مسلمانانو ته ورښیي اوپه پای کې به په کفري جهان داسلام مبارک دین مني.

اوس اوس خودلومړیتوبونواوشرائطوسره سم په هیواد کې د ننه دافغاني میرمنواو دپوهې اومعرفت په ضد جهاد لګیادي. دوی دافغاني ښځودود یزې جامې چې دملي او اسلامي کلتور نمایندګي کوي، داسلامي حجاب په توګه نه مني، په هغوی نوی طالبي حجاب تحمیلوي. که څوک یې مخالفت وکړي، نود شیخ بسمل په غوښتنه باید داسې وځپل شي چې دسرغړونې توان له لاسه ورکړي. دجونو په مخ یې دمنځنیو او ثانوي زده کړه دروازې وتړلې، په غیر دولتي مؤسیسو کې یې دښځو په کار اوپه پوهنتونونو کې دجونو په زده کړه بندیزونه ولګول. په راتلونکې کې به په دې برخه یوڅه مفصل بحث وکړو خودلته دیوه ټکي یادونه کوم او هغه داچې طالبان داموضوع د دوی او دنړیوالو ترمنځ داختلاف موضوع ګڼي، خو حقیقت دادی چې دا ترڅه دمخه دطالبانواوافغانانوترمنځ لانجه. طالبان دافغاني جونواومیرمنو په حقوقو تیری کوي او په افغانستان کې دپوهې او معرفت بنسټونه ورا نوي، نوځکه دا ترهرڅا دمخه دافغانانو دنده ده چې یولاس او یو موټی یې په وړاندې ودریږي او پرې نه ږدي چې طالبان دې داسلام ، انسانیت او ملي ګټو ضد مو خې ته ورسیږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ